# مېرو ته ښکنځل مه کوئ، ځکه چې هغوی هغه څه ته ورغلي دي چې مخکې يې له ځان څخه لیږلي دي

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: "مړو ته ښکنځل مه کوئ، ځکه چې هغوی هغه څه ته ورغلي دي چې مخکې يې له ځان څخه لیږلي دي".
[صحیح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مړو ته د سپکاوي او د هغوی ابرو پسې د خبرو کولو حراموالی بیانوي او وايي چې دا له ناوړه اخلاقو څخه دي، ځکه چې هغوی هغه څه ته رسیدلي دي چې له نېکو او بدو عملونو څخه يې وړاندې کړي دي، نو لکه څرنګه چې دا ښکنځلې هغوی ته نه رسيږي، بلکه يوازې ژوندي ازاروي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee